# دیارلسم فصل

**حقوقي سیستمونه او محاکم:**

د امریکې متحده اَیالات په دې ویاړي چې د (قانون حکومت) پکښې حکفرما دئ. د دې خبري یوه نښانه په امریکا کي د قانوني وکیلانو [lawyers] د شمیر زیاتوالی دئ. په امریکا کي پر هرو سلو زرو تنو باندي ۲۸۱ قانوني وکیلان موجود دي، په مقایسوي توګه دا شمېره په انګلستان کي ۹۴، په فرانسه کي ۳۳ او په جاپان کي ۷ تنو ته رسېږي. قانون په دې سیستمونو کي بېلابېل رولونه لوبوي. په امریکا کي د قانوني وکیلانو پراخ لښکر د خلګو د آزادۍ او انفرادیت ښکارندوی دئ. په ډېر ولږو هیوادونو کي کمزوری سړی په زورور سړي دعوه کولای سي. په امریکا کي ډېر خلګ شکایت کوي چې په دې هیواد کي بیخي ډېري دعوې اقامه کېږي، مګر ډېر لږ خلګ به د جاپان سیستم ته غاړه کښېږدي، چې په هغه کي له خلګو څخه د حکومت د اطاعت او همکارۍ غوښتنه کېږي. قانون بې له قانوني وکیلانو داسي معنی لري چې قانون به د بیوروکراتانو په ولکه کي وي. د قانون تر سایې لاندي آزادي ډېرو قانوني وکیلانو ته اړتیا لري.

**د قانون ډولونه:**

موږ دلته پر مثبت قانون باندي چې انسانانو د پېړیو په اوږدو کي تصنیف کړی دئ، تمرکز کوو. د طبیعي قانون په خلاف، مثبت قانون د صحیح او غلط د معلومولو له پاره د حقوقو کتابونو ته مراجعه کوي. زموږ پر له پېچلې بشري ټولنه د قانون بېلابېلو ډولونو ته اړتیا لري چې لاندي څلور یې عمده دي:

**جنايي قانون:**

څرنګه چې تقریباً دوه ملیونه خلګ د امریکې په بندیخانو کي پراته دي،